# علم د دې لپاره مه زده کوئ چې د علماوو په وړاندې پرې فخر وکړئ او نه د دې لپاره چې ناپوهانو ته پرې ځان وښايئ

له جابر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «علم د دې لپاره مه زده کوئ چې د علماوو په وړاندې پرې فخر وکړئ او نه د دې لپاره چې ناپوهانو ته پرې ځان وښایئ او نه د دې لپاره چې په مجالسو کې پرې د ځان لپاره ځای ناستی غوره کړئ، نو که چا داسې وکړل، نو - د هغه لپاره - اور دی اور».
[صحيح دی] [ابن ماجه روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم پدې موخه د علم له زده کړې څخه خبرداری ورکړی، چې د علماوو په وړاندې پرې فخر وکړي او ځان پرې وښايي، او دا ورته وښايې چې زه هم ستاسو په څېر عالم يم، او يا د دې لپاره چې ساده او کم عقله خلک پرې مخاطب وګرځوي، او يا زده کړه د دې لپاره وکړي چې په مجلس کې پرې مشري تر لاسه کړي او نورو ته پرې لومړیتوب ورکړل شي. نو چاچې داسې وکړل، هغه د ځان ښودنې (ريا) او د الله لپاره په زده کړه کې د اخلاص د نشتوالي له امله د اور مستحق دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65047

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee